رحمت څواکمن
۲۰۲۳/۰۹/۱۸

# د آسیا زړه او د لعلونو خزانه

د پورتني سرليک له مخې د افغانستان پر دوو ځانګړتياوو، ستراتيژيک موقعيت او شتمن ارزښت تمرکز کوم:
الجزيره تلويزيون پر خپله ويبپانه کې د ۲۰۱۹ کال د مې په مياشت کې يوه پوښتنه مطرح کړې وه چې:
ولې افغانستان د خپلو سترو کاني شتمنيو د استخراج وړتيا نه لري؟
وروسې يې يو تحليلي راپور ليکلی او پر ځنو کانونو يې د کار ځني تصويرونه هم خپاره کړې دي.
زه مخکې له دې چې پورتنی پوښتني ته ځواب ولټوم د افغانستان پر ستراتيژيک او اقتصادي اهميت به هم لږه رڼا واچوم.
همدارنګه پر يوه بله مشهوره ويبپانه (oneworld) کې هم په دې هکله يوه مفصله ليکنه شوې، چې زه ورځني په دې ليکنه کې هم خال خال کار اخلم.
که څه هم افغانستان د جغرافيايي موقعيت له مخې په جنوب لويديځه اسيا کې پروت دی، خو د خپل ستراتيژيکي موقعيت له مخې د آسيا زړه بلل کيږي. له همدې امله د سترو قدرتونو يا زبرځواکو لپاره تل زړه راښکونکی دی.
پر دې هيواد له پيريو راهيسې د همدې مهم او حساس موقعيت له امله د يرغلګرو يرغلونه او تاړاکونه هم روان دي.
هغه مهال چې زياتره د ځمکنيو تاړاکونه وخت و او لا سمندري او هوايي لارې نه وې پرانستل شوی، سمندري او هوايي جنګي وسايل او بريدونه هم نه وو، نو يرغلګرو لښکرو لکه د چنګيز، ګوډ تيمور او نورو به، د منځنی او شمالي اسيا له پراخو دښتو او وچو بيدياوو، د سهيلي اسيا د تودو اوبو او هند پر لور بريدونه کول. د دوی د لاری پر سر داسې يو ملک يعني اوسني افغانستان پروت و چې، د هند د دروازې کيلي بلل کيدله.
په دې وروستيو کې پخواني شوروي اتحاد هم کوښښ وکړ چې د هند سمندر پر لور دا دروازه ماته کړي او د هند د دې مهم ور کيلي په لاس ورشي، خو له پښو ولويد او دی ارمان ته ونه رسيد.
پخوا انګريزانو او دادی په در وروستيو کې د امريکې متحده ايالاتو او ملګرو يې هم غوښتل د اسيا د همدې بام پر سر مورچل جوړ کړي او له همدې ځايه ټوله اسيا او نړی وڅاري.
د ستراتيژيک او جيو پوليتيک اهميت تر څنګ افغانستان نوري ډيرې غوره طبيعي او جغرافيايي وړتياوی او ځانګړني هم لري. دا هيواد د شمالي نيمې کرې په منځنيو عرض البلدونو کې پروت دی او څلور بيلابيل فصلونه لري.
دا داسې يو غرني هيواد دی چې ۷ بيلابيلي اقليمي سيمې لري، د اقليم يا اوبو او هوا همدې رنګارنګی افغانستان د بيشميره رنګارنګ او بيلابيلو ډولونو ژويو، طبيعي ځنګلونو، نباتاتو، ميوو او غلو دانو خاوند کړی هم دی. دا داسې يوه لرغوني خاوره ده چې له پيريو راهيسې، په کې ميشتو انسانانو او نورو زرګونو ډولونو ژويو، مرغانو او نورو ژونديو موجوداتو ته استوګنه خواړه او نورې اسانتياوی برابرې شوی دي.
د غرونو او دښتو تر څنګ يخچالونه، زيات سيندونه، او ځمکې لاندې د خوړو يا پاکو اوبو زيرمې هم لري.
د دې هيواد وګړي هم د خپل طبيعي چاپيريال تر اغيز لاندې، خاص تولنيز او کلتوري صفات لري. پخوانيو نړيوالو سيلانيانو دا وګړي تل په درنښت، ميلمه پالنه، خپلواکی غوښتنه، ژمنه او وفا ولاړ ، رښتيني او سپين زړي بللي او ياد کړي دي.
د اسيا دا زړه له ډير مهم ستراتيژيک موقعيت او اهميت سره سره ستر اقتصادي اهميت هم لري او د لعلونو يوه خزانه بلل شوی او ياده شوی ده.
د افغانستان غرونه او رغونه د نړی له سترو ځمکنيو خامو توکو او کاني زيرمو ډک دي.
د يوه اټکل له مخې په افغانستان کې د درېو بيليونو يا درېو زرو مليارډو په ارزښت کاني زيرمې شته.
د نفتو او ګازو له زيرمو پرته په دې هيواد کې رنګارنګ فلزات، قيمتي ډبرې او منرالونه هم شته.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

په دی هیواد کې داسی لږ موندونکی یا کم ساري کاني توکي هم شته چې یو ډول یې د ۱۷ رنګارنګ فلزاتو یوه ډله ده ، چې د اوسني اقتصادي ماشین په چلند او د اوسنۍ تکنالوجۍ په صنایعو کې ډیر زیات اهمیت لري.
له دی کم ساري ډلې، په لمریزو ډرو کې مس او په موبیل تلیفونونو، د کمپیوترونو په حافظو، لایزر، د بریښنایی موټرو په بطریو او نورو کې کوبالت، لیتیم او داسی نور کارول کیږي .
د همدې کم سارو یا لږ موندونکو فلزاتو اندازه په افغانستان کې 1.4 ملیونو ټنو ته رسیږي.
له دې امله چې همدغه ډول کاني توکو ته به په راتلونکو کلونو کې اړتیا نوره هم زیاته شي، نو ځکه به د افغانستان رول په نړیوال مارکیټ یا بازار کې زیات او د پام وړ وي.
خو ویره داده چې کیدای شي نوموړی هیواد به د طبیعي سرچینو د ترلاسه کوونکو زبرځواکو په چټله لوبه کې نور هم وکړول شي، ځکه له څو لسیزو رادیخوا، افغانستان د ثبات، پرمختیا او هوسا کیدو پر ځای، د کړکیچ، فساد او استثمار یوه سرچینه او ډګر ګرځېدلې دی.
دا لوبه له هغه مهاله توده شوه کله چې د پخواني شوروي اتحاد یو دولتي مشر بریژینیف، د سردار داوود خان د افغانستان لومړي جمهور ریس د کتنې په مهال، هغه ته ګوتڅنډنه وکړه او ورته یې وویل چې، لویدیځ کار پوهان د افغانستان په شمال کې د نفتو پلټنې کوي او دا کار موږ ته د منلو نه دی. خو سر زوري پر وطن مین داوود خان ورته ویلی و چې، دا په موږ پورې اړه لري چې چاته په خپل هیواد کې د زیرمو د پلټلو او لټولو اجازه ورکوو او چاته یې نه ورکوو. ویل شوي چې آن شهید داوودخان نه غوښتل چې د شوروي زبرځواک له مشر سره د مخې ښې لاس ورکړي او په سخت غبرګون ورځنې رارخصت شوی و.
هماغه و چې په ۱۹۷۹ کې پخواني شوروي دی هیواد ته لاس را اوږد کړ، غوښتل یې د شمال د ګازو له زیرمو هم کار واخلي، یو څه صادرات هم ورته پیل شول، خو د امریکې او نورو لویدیځو هیوادونو له ملاتړ برخمنو جهادي ډلو په وسیله له ماتې سره مخ شو.
د سپتمبر له یوولسمې وروسته د امریکې زبر ځواک شاو خوا یو بلیون ډالر دلته پر جګړه ولګول. د همدې اوږدې جګړې په ترڅ کې یې کوښښ وکړ چې دا هیواد د لویدیځ پر لور سم کړي او د امریکې ستراتیژیک سیاسي او اقتصادي دوست هیواد شي. همدارنګه پر جګړې خپل لګولي لګښتونه هم د افغانستان له طبیعي شتمنیو او کاني زیرمو ترلاسه کړي.
واشنګټن خپلې سترګې د افغانستان همدې کم سارو فلزاتو ته برندې کړی وی، کوم چې دشنه اقتصاد په صنایعو کې ډیر ارزښت لري.
خو په افغاتستان کې له دی کانې زیرمو د کار اخیستلو په برخه کې یوه ستونزه هم وه او هغه دا چې د دی موادو د لیږد لپاره مناسبې لویې سمندري لارې او د ریل ګاډي پټلۍ نشته چې دا مواد په اسانه او ارزانه ولیږدول شي. له بلې خوا دا کاني زیرمې په ټول هیواد کې خورې ورې پرتې دي او د وړلو لپاره یې یوه مناسب ترانسپورتي سستم ته اړتیا ده.
ددی ترڅنګ امریکه ونه توانیده چې د کاني زیرمو لرونکې ډیرې برخې د مخالفو وسله والو له کنتروله وباسي.
په ۲۰۱۸ کې د افغانستان په ختیځ ننګرهار کې د تالک یا شوکانې د زیرمو په ساحو کې د داعش او طالبانو تر منځ هم جګړې وشوې.
په ۲۰۲۰ کال کې Foreigen Policy هم د همدې کاني توکي په هکله، یو خبر خپور کړی و چې هغه مهال د کابل حکومت یوازې د ۴۲ ملیونو په ارزښت له شوکانې یا تالک کټه ترلاسه کړی وه، په داسی حال کې چې طالبانو نیم ملیارد ډالر له همدې کاني توکي لاس ته راوړی و. د همدې کان د ارزښت په هکله ما څه موده پخوا د یوه هالنډي مشهور خبرپاڼ پر یوه راپورتاژ هم، یوه لیکنه کړی وه او خپره کړی مې وه.
ددی تر څنګ دا ویره هم وه او شته چې د دی کاني توکو غیر مسلکي استخراج د چښلو پاکې اوبه ککړې نه کړي او چاپیریال ته زیان ونه رسوي.
خو د چین هیواد چې له افغانستان سره په شمال لویدیځ کې ګډه پوله لري او د پامیر په غرونو کې د واخان له تړانګې سره نښتې دی نو کولای شي چې په اسانۍ سره له همدې لیارې د افغانستان طبیعي سرچینو ته ځان وروسوي.
چین غواړي د وریښمو پر نوی لویه لیاره پانګونه وکړي او د ریل ګاډي پټلۍ له همدې ځایه تر اروپا او افریقا هم ورسوي.
د وریښمو پخوانۍ لیاره هم چې د سوداګرۍ یوه ډیره تاریخي او مشهوره لیاره وه، د چین وریښم او د هند دارو درمل او نور مهم توکي به پر همدې لیاره له افغانستانه تیریدل او تر اروپایې روم، یونان او نورو هیوادونو به وړل کیدل.
له همدی امله څو کاله دمخه چین د عینکو د مسو قرارداد لاسلیک کړ او په دی وروستیو کې ځنې چینایي شرکتونو له افغان لوري سره د کانونو د استخراج په برخه کې ځنې نور قراردادونه هم لاس لیک کړی دي.
د افغانستان د ستراتیژیک او اقتصادي اهمیت د دی لوبې یو بل لوبغاړی پاکستان دی.
دلته بیا یوه بله ستونزه د هند او پاکستان تر منځ خپل منځي کړکیچ او لانجه ده، چې افغانستان یې هم اغیزمن کړی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د افغانستان دا ګاونډي له چین سره د وریښمو د نوی لیاری په جوړولو کې هم غاړی شوی دی. چین د هند له تمې خلاف د پاکستان په زیربنایي یا بنسټیزو پروژو کې تر ۶۴ ملیاردو ډالرو د پانګونې ژمنه کړی ده، تر څو پاکستاني صنایع او بازارونه د بلوچستان د ګوادر سمندري بندر سره ونښلوي. دا کار نه یوازی د دی لپاره چې دا لاره د مرکزي اسیا لپاره یوه مهمه لاره او بندر شي، اما د هند سوداګرۍ ته هم یو خنډ رامنځ ته کړي.
د دی لپاره چې هند په دې ستراتیژیکه سیمه کې له چین او پاکستان شاته نه وي پاته شوی، نو هند د امریکی له ملاتړ برخمن پخواني افغان حکومت سره له ۲۰۰۱ کال را دیخوا د دریو ملیاردو ډالرو په ارزښت مرسته هم کړی ده.
د دی تر څنګ هند د خپلو سوداګریزو شریکانو په مرسته هڅه وکړه چې د چین او پاکستان د بندونو او خنډونو مخنیوی وکړي او د ایران په چابهار سمندري بندر کې یې پانګونه وکړه، تر څو له افغانستان او همدارنګه له هغې لیارې له منځنۍ اسیا سره هم خپله سوداګري وپالي.
خو پر ایران نړیوالو بندیزونو او په افغانستان کې وروستي سیاسي بدلون او د حکومت ړنګیدلو په دی برخه کې یوه بله تشه رامنځ ته کړه.
ډیر کار پوهان د افغانستان طبیعي زیرمې د نوموړی جګړه ځپلي او بیوزلي هیواد د رغولو یوه کیلي ګڼې خو د زیربینایې بنسټیزو جوړښتونو او لویو لیارو کمزوری حالت، د سترو پانګوالو زړه نازړه حالت او د زبرځواکو او ګاونډیانو ناوړه او چټلې سیالۍ له دغو شتمنیو معقوله استفاده ستونزمنه کړی ده.
د الجزیره تلویزیون یوه لیکوال ته پانګوالو، د ۲۰۱۹ کال د می په میاشت کې هغه مهال چې جمهوریت واکمن و، له نا امنۍ، فساد او کمزوري قانون سر ټکولی و او هغه مهال یې د کانونو په استخراج کې غټ خنډونه بللی و. نوموړی لیکول د مرمر ډیرو اهمیت او استخراج ته ګوته نیولی وه او ویلی یی و چې کیدای شي نوموړي ډبری او داسی نور کاني مواد افغانستان اقتصادي خپلواکۍ ته ورسوي.
البته په هماغه کال د کانونو نا خالص عایدات په سلو کې له ۷ تر ۱۰ رسیده.
اوس چې په افغانستان کې د نوی واکمنۍ په راتلو سره، د اوسنیو چارواکو پر وینا بشپړ او سراسري امن ټینګ شوی، کانونه د زورواکو له منګلو ژغورل شوي او فساد له منځه تللی دی، نو هیله ده چې نوری سیاسي ستونزې، هم ډیر ژر هواری شي او افغانستان په یوه سالم ناپیيلي اقتصادي سیاست سره وکولای شي د افغانستان له ملي طبیعي شتمنۍ معقوله استفاده وکړي. داسی چې کاني توکي په اغیزمنه توګه استخراج شي، کارګرو ته په عادلانه توکه مزد، د کار مناسب چاپیریال او صحي بیمه برابره شي. د کانونو په درنو کارونو کې کم عمره وګړي استخدام نه شي، پانګوال د کاني کارکوونکو روغتیا، سلامتیا او امتیازات تضمین کړي، د کار نړیوال منل شوي اصول او بشري قوانین په پام کې ونیول شي او چارې داسی سمبال شي چې ګټه یې ټول ولس ته ورسیږي. چاپیریال زیانمن نه شي، زیربینایې بنسټیزې اسانتیاوې رامنځ ته شي او جګړه ځپلي افغانستان په پوره سوله کې بشپړ ورغول شي.
خو که چیری پانګوال هم له خوړې ګوتې نیول کوي او د ولس او حکومت له ناچارۍ ناوړه ګټه پورته کوي، کانونه په مناسبه بیه او د نړیوالو معیارونو مطابق نه استخراجیږي، نو بیا به غوره وي چې، دا طبیعي شتمني او د لعلونو خزانه یو څه وخت نوره هم سر پټې پاته شي او په یوه مناسب وخت کې ورځنې معقوله او اغیزمنه استفاده وشي.

پوهنمل دکتوراندوس رحمت ځواکمن
هالنډ/ ۱۷- ۹- ۲۰۲۳


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ